# د عربي او پښتو شاعرانو څخه د عشقیه شاعرۍ مقام

# Importance of Love Poetry among Arabs and Pashtoon Poets

Habib Nawaz Khan [1]

Pashtoon and arabs are very loving .thy both consider love is an important and necessary elements for life .they think that life is nothing and incomplete without love. That is the reason that the idioms ,proverb and stories about love are very famous among themselves. Like the people the poets of these two nations also give very impotence to love poetry and it is the trend in the two nations that their poets take starting from love poetry. Arab and Pashtoon Poet touch every angle of love poetry. For example Troubles and difficulties in love, beauty of beloved and comparison in different in beautiful things like flowers , moon, sun etc. This topic is very beneficial because love poetry is the only thing we should creates atmosphere love and peace and it plays a very important role in bringing people near to each other, and besides these it love poetry is also source of entertainment.

**Key words:** Arabs, Pakhtoons, Love Poetry, Equal, Importance.

د عربي او پښتو شاعرانو کښې عشقيه شاعري ډېر لوړ مقام لري او د ډېره حده پورې د دواړو ژبو شاعرانو په عشقيه شاعرۍ کښې مشابهت او يوشانوالے هم موجود دے. ددې اصل وجه داده چې دواړه قومونه دثقافت په لحاظ سره ديو بل سره ژور مشابهت لري . دوئ په سياسی، دينی او معاشرتی لحاظ سره ډېر مشابهت لري هم دغه وجه ده چې شاعرانو ئې هم په خيالاتو ، افکارو ، جذباتو او احساساتو کښې مشابهت او يوشان والے موجود د دوي عشقيه شاعرۍ ته په ټولو اصنافو نه دروند او لوړ مقام ورکوي او په دا کښې بالکل لکه يوه پېمانه سره ناپ شوے يو شانوالے او مشابهت لري . عشقيه شاعرۍ له د هر زبان په شاعرۍ کښې د نورو اصنافو په نسبت لوړ مقام حاصل وي. دغه رنګه په عربۍ او پښتو شاعرۍ کښې عشقيه شاعرۍ ته د نورو اصنافو په

1 Head Department of Pakistani Languages & Culture, NUML, Islamabad

نسبت لوړ مقام حاصل دے او د دواړو ژبو شاعرانو په افکار، احساسات ، جذبات او خوښه کښې ژور یو شان والے او اهمیت موجود دے ،دلته د دې مختصر بیان وړاندې کوو.

د دواړو قومونو لوے وارۀ نرینه او ښځینه عشقیه شاعري بې کچه خوښوي. دوي کله هم چې شاعري لولي یا اوري نو زیاته د مینې اومحبت نه ډکه شاعري لولي او اوري ، او دغه رنګه چې کله په خوږ اواز شعرونه وائي نو د محبت شعرونه زیات وائي،. د دې نه ښکاره معلومیږي چې دواړه قومونه د محبت شاعرۍ ته یو شان لوړ مقام او اهمیت ورکوي.

## د مینې اومحبت جذبه

عرب او پښتانۀ په فطرتي لحاظ سره جذباتي قومونه دي کله چې د یو څیز نه متاثر شي نو د هغه په خپلولو کښې د ځان پرواه هم نه کوي . د محبت او مینې په جذبه کښې دومره ژور درومي چې د ځان او ژوند دواړو پرواه نه کوي . هم دغه رنګه خپل قلم ته هم دمحبت په لاره کښې د ځان قربانول ورسپاري. عربي شاعر ابو العتاهیه په دې حقله د خپلو جذباتو اظهار ډېر خوندور کوي هغه د محبت انتها ته رسیدلي دي، خپل محبوب باندې ځان ورکوي او خلقو ته دا خبره ښکاره ښائي چې چا به داسې عاشق هم لیدلے وي چې د محبت په شدت کښې عاشق،معشوق ته د خپل سر نذرانه وړاندې کوي . وائي :

یا من رأی قبلي قتیلا

بلی من شدة الوجد علی القاتل ۱

ترجمه: اے خلقو! ما ته دا اووایئ چې مانه وړاندې هم داسې (عاشقان) تاسو لیدلي دي چې په شدت محبت کښې خپل ځان قاتل (محبوب) باندې قربانوي.

دغه خبره عبد الرحمٰن بابا هم کوي چې زما په شان به بل داسې عاشق نه وي چې په محبت کښې د خپل سر سودا کوي وائي:

چې دیار په دیدن سر وصال ښندمَ
خلقو واورئ زۀ هغه عبدالرحمٰن یم (۲)

د دواړه ژبو شاعران محبت په وجود کښې د روح یا وینې په شان ګڼي، دوي د محبت نه بغیر ژوند داسې ګڼي لکه څنګه چې په وجود کښې د روح او وینو ضرورت وي. عنتره بن اوس وائي :

یا عبلة! حبک فی عظامی مع دمی
لما جرت روحی بجسمی قد جری (۳)

ترجمه: اے عبله (دعنتره دمحبوبې نام دے ) ستا محبت زما په هډوکو کښې موجود دي کله چې روح زما په وجود کښې ګرځي نو محبت هم ورسره په وجود کښې ګرځي.

یعني عنتره بن شداد ددې شعر نه دا مقصود دي چې په وجود کښې روح او محبت یو ځائے ګردش کوي تر څو چې روح په بدن کښې ګرځي تر هغه پورې به محبت دده په بدن کښې ګرځي . پښتون شاعرسعدالله جان برق دا مضمون داسې بیانوي :

په هر یور رګ کښې مې ستا مینه لکه وینه ګرځي
په هره سا کښې ستا یا دونه اندروني تروي٤

ستا مینه د وینو په شان زما په هر رګ کښې ګرځي او په هره سا کښې مې ستا یادونه ګرځي .

پورته بیان نه ښکاره اندازه لګي چې عربي او پښتانۀ شاعران دمحبت شدت او زیاتوالي ته ډېر زیات اهمیت ورکوي. دوي محبت د انسان په ژوند کښې دومره اهم جز ګڼي لکه څومره چې په بدن کښې روح او وینه ضروري دي .

د عربو او پښتنو شاعرانو د عشقیه شاعرۍ نه دا اندازه لګي چې دوي یو ځل د چا سره د محبت سفر شروع کړي نو په زړونو کښې ئې هم د دغه انسان محبت وي بل چا ته ئې مخ نه وراوړي ځکه چې د دوي په نزد محبت د یوه سره کیږي د ډېرو سره نه.

عربي شاعر عروة بن اذينه وائي :

فو الله ثم الله ما حل قبلها
ولا بعدها من حلة حيث حلت (۵)

ترجمه : د الله قسم! د زړۀ په کوم کوټ کښې چې ددۀ (محبوبه) محبت پروت دے تر هغه ځائے پورې اول او وروستو کله هم د چا محبت رسیدلے نه دے. یعني څومره چې زما په زړه کښې دهغه محبت او مینه ده دومره مینه د هیچا پکښې نشته.

عبد الرحمن بابا پدی حقله خپل خیال :

بې د ستا له زیبا مخه وبل مخ ته
منتظر د یوې ستنې تر سم نۀ یم (۶)

خوشحال بابا هم دغه مضمون داسې بیانوي :

چې ما کړې په جهان کښې رڼا ستر ګې
بې له تا مې خورې نۀ شوې په چاسترګې (۷)

د پورته بیان نه معلومیږي چې عربي او پښتانۀ شاعران د اصلي او محکم محبت قایل دي او هغه محبت او مینه ته قدر او اهمیت ورکوي کوم چې سوچه وي د باد په شان وخت په وخت بدلیږي او کمیږي نه بلکې سدا بهار وي او د خزان باد نه محفوظ وي.

د دوارو قومونو د شاعرانه افکار نه اندازه لګي چې د دوي عاشقان د محبت په دنیا کښې هوش وحواص مفقود کړي خپل ټول مصروفیات او دلچسپۍ پرېږدي او د جنون حد ته ورسیږي ، په دي حقله عربي شاعر((طرفة)) وائي:

أصحوت اليوم أم قتك هر
ومن الحب جنون مستعر (۸)

ترجمه : نن په خپل هوش وحواس کښې ئې ، لا نن هم هره (محبوبه ) د ځان مشتاق کړي چې محبت د بهسم کولو والا مجنون نام دے۔

دپښتو عظیم شاعر عبدالرحمن بابا وائي :

زۀ هسې ديوانه ومجنون چاکړم
له رواجِ له رسومَ بيرون چاکړم (۹)

دپښتو شاعر سرتاج شوقدری وائي :

آخـــر نصيب مې شـــو جنون ملـــګـــرو
اوس په بيديا مې شو ژوندون ملګو (۱۰)

دپاسه بيان شوو شعرونو نه معلومه دا شوه چې عربي او پښتانه شاعران په خپله شاعرۍ کښې د جنون او پاګلتوب مينه او محبت څومره په غرور او قوت سره محفوظ کړي دي ۔ دوي د مينې او محبت د جنون حد يو شان لوړ او عظيم ګاڼلي دي۔

وصال دعشقيه شاعرۍ يو منزل مقصود او اخری او اولی خواهش ګڼړلی کيږی د محبت نه که د ديدن يا وصال نام اوباسی نو محبت او مينه به صرف يو خيال پاتی شی هم دغه وجه ده چې عربي او پښتانو شاعرانو پخپله عشقيه شاعرۍ کښې وصال ته په ټولو نه زيات اهميت کړي دي ۔ او تقريبا هر شاعر د وصال مشتاق او تږی دي او دقلم په زور ئې هسی حال بيانوي۔عربي شاعر عنتره بن شداد وائي:

سأندب حتى يعلم الطير أنني
حزين ويرثى لي الحمام المغرد (۱۱)

ترجمه : زه به دوصال په شوق کښې دومره نوحه خواني کوم چې مرغيو ته به پته ولګي چه زه څومره غمژيم نو چغار کونکی کنتره به هم زما په غم وجاړی۔

عبدالرحمان بابا وائي:

دا باران نه دے چې ووری له آسمانَ
د مرغانو په رحمان باندې ژړا شوه(۱۲)

کله چې دعاشقانو د وصل شوق ډېر زيات شی نو ددې شوق په ائينه کښې دوصل خوبونه وينی د دی اصل وجه او محرک دادي چې په ويښه د وصل خيال پری دومره غالب شی چې په زړه او ذهن کښې ئې صرف دمعشوق ياد غرېږی او اخر يې د شپې په خوب باندې هم دغه خيال او اميد چاپيره شی دغه منظر عربي شاعران خپل قلم ته سپاری، يو شاعر وائي :

يدنوا لو صلک خين شط مزاره
و هم اکاد به اقبل فاک(۱۳)

ترجمه: کله د چې د ملاقات څۀ وخت وشی نو ستا په ځاے د ستا خيال په خوب کښې زما سره ملګرى شی. او (په خوب کښې دي) خله ښکل کړم.

عنتره بن شداد دا حال داسې بيانوي.ـ

اتاني عبله فی المنام
فقبلنی ثلاثا فی اللثام (۱٤)

ترجمه: عبله (محبوبه) په خوب کښې راغله او ما ئې (خله) ښکل کړه.

دپښتو مشهور شاعر عبد القادر خان خټک وائي:

برايه مې اشنا وليده په خوب کښې
په ژړا مې کړه په اوښکو بستر تر(۱۵)

دپښتو مشهور شاعر عبد المالک فدا وائي:

بيلتون کښې دی جنانه د ليد و خوبو نه وينم
مېرو کښې سوے لوے د اوبو خو بونه ينم(۱٦)

معلومه شوه چې زمونږ د عربي او پښتانو شاعرانو هر فعل او حرکت کښې د وصل او دیدن اثر موجزن وي. د دوي په خیالاتو دوصل امید او اشتها دومره موثره وي چې په ویښه پریږده په خوب کښې هم د دوئی عمل د وصل او دهغه د امید نه ډک وي.

داخبره ښکاره ده چې دیدن یا وصال دهر عاشق او شاعر د خیال او عمل محور وي دعربي او پښتو هر شاعر د وصال دپاره داسې دقربانۍ خیالات وړاندې کوي چې پکښې ځان او مال نه تیریږي. د دوئی په خیال اصل ژوند خو دیدن دی که دیدن نه وي نو نه دځان فائده شته نه دجهان . دغه احساس د عربۍ مشهور شاعر امرو القیس داسې وړاندې کوي.

یمین الله ابرح قاعدا
ولو قطعوا رأسی لدیک واوصال (۱۷)

ترجمه: په الله قسم ! د محبوبې د دیدن دپاره (په لار کښې) اودریږم اګر که زما سر او نور اندامونه کټ کیږي.

دغه مفهوم عبد الملک فدا داسې وړاندې کوي.

یا به سه پیدا کړمه ستا د کوسے خاور وکښې
یا به هان فنا کړمه ستا د کوسے خاور کښې(۱۸)

حان به کوسه کښې ورته خاورے کړمه
که اشاره مې دجنانه شوله(۱۹)

دپښتو مشهور شاعر اجمل خټک په دې حقله وائي:

ستا د مینې لارې نه هېڅ کله وانه وړمه
دار که مې بیلتون دسرَ دپاره ودریدلے دے (۲۰)

معلومه شوه چې عرب او پښتانه څنګه چې په عام ژوند کښې ننګ او غیرت ظاهر وي هم دغه رنګه د دوي شاعران هم په محبت کښې د خپل سر او مال دقربانولو خبرې کوي. یعني د دوئی د عملي ژوند عکس د دوئی په مینه او عشقیه شاعرۍ کښې جوت دی .

فراق او جدائي د وصال او دیدن ضد دے خو بیا هم خپله کښې دومره تړلي وي چې که وصال وي او فراق نه وي نو مینه مینه نه پاتې کېږي. هم دا وجه ده چې د عربۍ او پښتو شاعرانو دفراق او جدائي موضوع ته دومره مقام او اهمیت ورکړي څومره یي چې وصال او دیدن ته ورکړي دی. او دا موضوع یې ډېر په ښهٔ انداز سره ډېر زړه راښکونکو ټکو کښې بیان کړي دی.

په مینه کښې څهٔ نه څهٔ لمحې داسې وي چې هېرېږی نه بلکې همېشه همېشه دزړه او خیال نه نه اووړی مشهور عربي شاعر الصمة بن عبدالله القشندي دا خیال داسې وړاندې کوي :

فلیست عشیات الحمی برواجع
إلیک ولکن خل علینیک تدمعها(۲۱)

دا خیال مشهور پښتون شاعر شیر شاه ترخوي داسې وړاندې کوي :

تللي وختونه به په بیرته راستانه نه شي بیا
تلونکے منزل ته قافلې وې لا ړې تیرې شولې(۲۲)

د دواړو شاعرانو بالکل یو انداز او طرز دے،دواړه په محبت کښې د تېر وخت ذکر ډېر په زړهٔ راښکونکي انداز کښې کوي چې د لوستونکي اوښکې څڅوي. د دواړو په نزد دا تېر وختونه بېرته نه رائحي خو بیا هم عشاق د اوښکو په دریاب کښې غوطې ورسې وهي.

عرب او پښتانه شاعران په فراق کښې دعشاق د مظلومیت بیانولو ته ډېر اهمیت ورکوي. که په عشقیه شاعرۍ کښې د عشاق یا شاعر مظلومیت او د هغه تکلیفات بیان نه شي نو حق یې نه پوره کیږي بلکې ډېره نیمګړې پاتې کیږي.

عشاق د مينې په طوفان کښې دومره مظلوم او قابلِ رحم شي چې د انسان نه علاوه (د شاعرانو په خيال) د مرغانو هم زړونه پرې خوږيږي او د دوي په غم ، ژړا او فرياد کښې برابر ورسره شريک کيږي . په دې حقله د عربئ مشهور شاعر جميل بن محمد وائي:

مازلتم يا بثن حتى لو انني
من الشوق استبكي الحمام لى ليا (۲۳)

ترجمه : اے بثينه (محبوبه ) : مسلسل مې په زړه کښې اوسې او ستا د وصال شوق مې دا حال جوړ کړي دي چې که په جذبِ عشق کښې د مرغئ ژړول اوغوارم نو هغه به په ژړا شي (يعني زما په حال به اوژاړي )

عبد الرحمن بابا د ځان په حال دمرغانو ژړا داسې بيانوي:

دا باران نه دے چې ووری له آسمانه
د مرغانو په رحمان باندې ژړه شوه (۲٤)

فراق د عشقيه شاعرئ بنياد دي په دې وجه د دواړو ژبو شاعران د فراق غم درد او تکليف بيانولو کښې د سخاوت نه کار اخلي او ډېر زيات اهميت ورکوي . د دوي په نزد فراق اور دے. د عربئ مشهور شاعر الحسين بن مسيطر الاسدي وائي:

لقد كنت جلدا قبل أن توقد النوئ
على كبدي جمرا يطيا خمودها (۲۵)

دا خيال مشهور پښتون شاعر شير شاه ترخوي داسې وړاندې کوي :

که هجران اور ته يم ناست راته بلېږي
ورته غوښې مې نيولې د زړګي دي ( ۲٦)

د فراق غم انسان د اندرون نه خالي کړي. هغه د ژوند په درياب کښې لمبو وهي خو دبل هر خواهش او لټون نه ويزار وي. د شاعرانو په جبه کښې فراق قاتل دی هغه ډېر په شدت سره انسان

د موثر روح او ځان نه خلاصوي چې په حقيقت کښې هغه په هيڅ شمار نه وي. عنتره بن شداد په نزد هغه د غړونو په شان لوے لوے عظيم ننګيالو سره په جنګ وجدل نه مري خو يو فراق داسې خطرناک او قوي څيز دے چې هغه قتل کوي . هغه وائي:

أقاتل كل جبار عنيد
ويقتلنى الفراق بلا قتال (۲۷)

ترجمه: زه د هر ظالم او سرکش سره جنګېږم (خو ماته هيڅ نقصان نشي رسولے) خو فراق دے چې ما بغېر د جنګ نه قتلوي.

د پښتو مشهور شاعر عبد القادر خان خټک دا خيال داسې واضحوي وائي:

ستا په تللو مې ارواح درومي له تنه
يو زمان رااَينى مه ځه د يار تنه(۲۸)

دا وو په عربۍ او پښتو شاعرۍ کښې د فراق اهميت او مقام چې ددواړ قومونو شاعران برابر اهميت ورکوي او په يوه انداز او اظهار سره د فراق او جدائی شدائد او تکاليف ذکر کوي چې د دواړو په ادب کښې ئې دشاعرۍ خوند ډېر زيات کړي دی.

په عربۍ او پښتو شاعرۍ کښې بيان شوي د هر عاشق يا شاعر دپاره يومسيحا موجود وي چې ئې د مرض او بيمارۍ علاج ډېر په اسانه کولی شي.هغه مسيحا ددوي محبوبه ده.

د عربو مشهور شاعر الاعشى دې موضوع ته ډېر اهميت ورکړے دے

لو اسندت ميتا إلى نحرها
عاش ولم ينقل إلى القبر(۲۹)

ترجمه: که ددې (محبوبې) مرۍ /غاړه په يومړی باندې ولګيږی نو هغه به ژوندی شي. او د هغه قبرستان ته وړلو ضرورت نه وي.

عبد القادر خان خټك وايې :

زۀ مرده ته مې عیسیٰ ئې
ژوندے کېږم ستا په دم (۳۰)

ښکاره معلومه شوه چې دعربو او پښتانو په معاشره کښې عشقیه شاعرۍ ډېر اهمیت او لوړ مقام لري. دوي دشاعرۍ په ټولو اصنافو نه دعشق او محبت صنف ،تغزل یا تشبیب ، ته ډېره توجه ورکوي او ډېره ئې خوښوي.

عرب عشقیه شاعرۍ شاعرۍ په ښادی او نورو محفلونو خصوصاً د ریکارډ او سی ډیر په ذریعه اوروي. په موجوده دور کښې دوي ټیلیوېژن کښې دا قسم شاعر ئې ګوري او اوري. دې نه علاوه ئې په ګاډو کښې هم اوروي. هم دغه رنګه پښتانۀ کوي.

لنډه دا چې د دواړو قومونو خلق ، شاعران عشقیه شاعرۍ ته یو شان ډېر اهمیت او لوے مقام ورکوي او د دوي په دا اختیار (خوښه) کښې دومره متشابه دي چې لکه دا د یوه قوم اختیار (خوښه) ده ، یا د یوه قوم شاعري ده یا د یوې ژبې یا چاپېرچل شاعري ده.

## نتائج

ددې مقالې نتائج لاندې وړاندې کېږي :

1. په دا مقاله کښې دعربو او پښتنو شاعرانو پحقله د عشقیه شاعرۍ لوے مقام او اهمیت بیان شوي دي .
2. په دا مقاله کښې د دواړو ژبو شاعرۍ کښې عشقیه شاعرۍ ته یو شان مقام او اهمیت ورکړي شوي دي او داسې ښکاري چې لکه د یو قام ادب او چاپېرچل شاعري ده.
3. په دې حقله د دواړو قومونو د شاعرانو په خیالاتو، افکارو ، جذباتو او انداز کښې ډېر قربت ښائیلي شوي . هم دغه فکري قربت د دواړ قامونو دقربت او ښۀ تعلق د جوړولو دپاره مهم ثابتیدے شي .

4. دا مقاله د طالبانو او محققينو دپاره ډېره ادبي او مطالعاتي استفاده لري هم دغه رنګه ديو ادب وده کېږي . ځکه چې داسې شان تقابلي مطالعې سره محققينو او طالبانو دپاره دمطالعې او تحقيق نورې نوې لارې خلاصېږي .

5. دا شان تقابلي جائزې نه اديبان او شاعران ډېر مستفيد کېږي ځکه چې د دوي په سبب په ډېرو نوو نوو موضوعاتو باندې ئې ذهن خلاص شي، هم دغه مقاله ددې مقصد ترسره کولو دپاره يوه مهمه نمونه ده.

## حواله جات


- صديق الله رشتين، دپښتو ادب تاريخ، پښتو ټولنه کابل۔ افغانستان، ص ۷۰، ۱۹۴۶ء۔
- عبدالحليم ندوي، ڈاکٹر، تاریخ عربي ادب، المطبعة العربية، لاهور۔ پاکستان، ص ۱۴۰، ۱۹۹۹ء۔
- افضل رضا، پروفيسر، دپښتو اکادمی ، پښاور يونيورسټۍ پښاور،۔ پاکستان ، ص ۱۶۱، ۱۹۷۸ء۔
- داؤد خان داؤد، سيرنه اوکتبه، بدون اسم مکتبة، پاکستان ، ص ۲۶، ۲۰۰۳ء۔
- مشتاق مجروح، زرکاڼړے، تاج کتب خانه ، پښاور ـ پاکستان، ص۱۴۱، ۱۹۹۸ء
- مجله(پښتو) عبدالرؤف (دغزل تعارف)، پښتو اکادمی يونيورسټۍ پښاور، پښاور ـ پاکستان، ص۱۱، ابريل ۱۹۸۱ء۔


## ماخذونه


۱: الزيات، احمد حسن، تاريخ ادب عربي بترجمه وازدياد محمد نعيم صديقی، مکتبه دانيال ، لاهور، پاکستان، ص ۳۷۴۔

۲: عبدالرحمان ، ديوان عبدالرحمان بشرح حافظ شريف احمد ، زيب آرټ پبلشرز پيښور۔ پاکستان، ص ۱۸، ۱۹۷۶ء۔

۳: القوال ، انطوان، عنترة وعبلة، منشورات جرس برس، طرابلس ـ لبنان، ص ۱۸، ۱۹۹۴ء۔

۴: برق، سعد الله جان، باران باران، بهارونه کتاب کور پښاور ـ پاکستان، ص ۱۸، ۲۰۰۵ء۔

۵: احمد حسن الزيات، تاريخ ادب عربي،ترجمه وازدياد محمد نعيم صديقی، ص ۲۱۱۔

۶: عبدالرحمان بابا ، ديوان عبدالرحمان ،شرح حافظ شريف احمد ، ص ۲۲۔

۷: إحسان ، فضل إحسان: انتخاب له ديوان خوشحال خان ـ د خوشحال بریس بشاور باکستان) ۱۹۱۳م ص: ٣٤٣ـ

۸: أفكار ، إقبال حسين: خوشحال او رحمان۔ جدون بریس بشاور باکستان) ۱۹۹۱م۔ص:٤٧

۹: الدکتور عبدالحلیم ندوي، تاریخ عربي ادب، ص ۲۵۴۔

۱۰: دیوان عبدالرحمان بشرح حافظ شریف احمد ، ص ۷۲۔

۱۱: شیر شاه، ترخوي، ادبی ستوری، وحدت پرنټرز پشاور ، پاکستان ، ص ۴۲، ۲۰۰۶ء۔

۱۲: دیوان عنتره بن شداد، ص ۱۰۱۔

۱۳: دیوان عبدالرحمان بشرح حافظ شریف احمد ، ص ۲۰۳۔

۱۴: احمد حسن الزیات، تاریخ ادب عربي، شرح وازدیاد محمد نعیم صدیقی، ص ۴۳۶۔

۱۵: عنترة وعبلة ، ص ۹۱۔

۱۶: عبدالقادر خان خټک، دیوان عبدالقادر خان ،تحقیق استاذ جهانزیب نیازی، ملت ایجوکشین پرنټرز ، لاهور ، پاکستان ، ص ۵۴، ۲۰۰۲ء۔

۱۷: باران ، باران ص ۹۹۔

۱۸: احمد حسن الزیات، تاریخ ادب عربي، شرح وازدیاد محمد نعیم صدیقی، ص 437۔

۱۹: باران، باران ، ص ۱۴۱۔

۲۰: ایضا، ص ۱۵۷۔

۲۱: اجمل خټک، ګل پرهر، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور ، پاکستان ، ص ۷۵، ۱۹۹۰ء

۲۲: تاریخ ادب عربي،بترجمه وازدیاد محمد نعیم صدیقی ، ص ۱۵۳۔

۲۳: ادبی ستوری، ص ۴۲۔

۲۴: ډاکټر عبدالحلیم ندوي، تاریخ ادب عربي، ص ۲۰۸۔

۲۵: دیوان عبدالرحمان بشرح حافظ شریف احمد ، ص ۲۰۳۔

۲۶: ډاکټر عبدالحلیم ندوي، تاریخ عربي ادب، ص ۱۵۳۔

۲۷: ادبی ستوری، ص ۱۸۴۔

۲۸: عنتره بن شداد، دیوان عنتره بن شداد العبسی،بشرح عبدالمنعم عبدالرؤف وشرکاء ه،مقدمة ابراهیم الابیاری، مطبعه فن الطباعة القاهرة، مصر، ص ۱۲۶۔

۲۹: ایضا، ص ۱۰۶۔

۳۰: دیوان عبدالقادر خان، به تحقیق استاذ جهانزیب نیازی، ص ۸۲۔